# د قيامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی څخه به د یو میل په اندازه واټن کې شي

له مقداد بن الأسود رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې ویل یې: «د قیامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی څخه به د یو میل په اندازه واټن کې شي»، سلیم بن عامر وایي: قسم په الله، زه نه پوهېږم چې له "میل" څخه یې موخه څه ده؟ آیا د ځمکې واټن دی، که هغه سلایی دی چې سترګو کې پرې رانجه کېږي؟ فرمایي: «خلک به د خپلو اعمالو له مخې په خولو کې وي: ځینې به تر پښو یعنې ښنګرو پورې وي، ځینې به تر ګونډو پورې، ځینې به تر کوناټو پورې وي او ځینې به داسې وي چې په خولو کې به ټول ډوب وي» راوي وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس خولې ته اشاره وکړه.

[صحيح] [مسلم روایت کړی]

پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې د قیامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی له سرونو سره به د یو میل په اندازه واټن کې شي. تابعي سلیم بن عامر وایي: قسم په الله، زه نه پوهېږم چې له دوو میلونو څخه یې کوم یو مراد دی؟ آیا د ځمکې واټن (یعنې یو میل فاصله)، که هغه میل (سلایي) چې سترګې پرې توریږي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خلک به د خپلو اعمالو له مخې په خولو کې وي؛ ځینې به داسې وي چې خوله یې تر پښو (ښنګرو) پورې وي، ځینې به تر ګونډو، ځینې به تر کوناټو او ازار بند (بډو) پورې وي، او ځینې به داسې وي چې خوله یې تر خولې پورې رسېږي او د خبرو کولو مانع به یې ګرځي. راوي وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس خپلې خولې ته اشاره وکړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4289

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee